بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# ملی ږغ

الحمد لله وکفی، وصلاة وسلام علی النبي المصطفی وعلی اله و اصحبه اجمعین ګرانو هیوادوالو ،
السلام علیکم ورحمة الله و برکاته
په تېره نیمه پېړۍ کې افغانستان د بهرنیو یرغلونو، کورنیو، نیابتي، استخباراتی جګړو او نورو ویجاړونکو تحولاتو ډګر وو.
د مسلسلو جګړو له امله د واک د ترلاسه کولو لپاره سیاسي هلې ځلې ولسي ملاتړ او منل شویو میکانیزمونو کارولو پر ځای د توپک زور او وژلو دود زموږ په ټولنه کې ځای ونیوه.

البته په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان ولس ، د واک انتقال په سوله ایزه توګه تجربه کړ ، خو داچې د پردی شاته ناوړه انګیزه او بد نیت موجود وه دغه نوښت د ودې ورکولو پرځای د نظام د سقوط لامل شو. بې له شکه چې د ٢٠١٤م کال د مخه ، د تیر حکومت کمزورتیا او پراخ فساد د نظام بنسټونه او د افغانستان نړیوال اعتبار ټکنی کړی وه . خو هغه څه چې په دی تیره ۷ کلنه دوره کې پېښ شول د هېواد لپاره له ناخوالو څخه ډکه، توره او تیاره دوره وه چې زموږ د خلکو لپاره یی د ډېرو دردونو ، کړاونو او مصایبو سبب وګرځیدل. بالاخره یو کال دمخه د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه د افغانستان ولس یو ځل بیا د سولې د ملي پروسې د سبوتاژ په پایله کې ، له یوه تازه ناورین سره مخ شوو. که څه هم دې وضعیت افغانان حیران کړل، خو په دی چې خلک د شخړو او ګډوډیو د پای شاهدان و نو سولې ته د رسیدو په هیله یې نوې بدلون ته محتاطانه غبرګون وښوده . تمه کیدله چې نوې واکمنان به د هیواد، خلکو ، سیمی او نړۍ وضعیت درک کړي او له تیرو تجربو څخه په استفادې سره به د خپل هیواد په تاریخ کې نوې پاڼه پرانیزی . توقع دا وه چې طالبان به د خپلو خلکو د زخمونو په مرهم کولو سره د یووالی او همغږی د روحیی پر بنسټ پر خپلو ژمنو عمل وکړی. افغانستان به د پرمختګ او سوکالی لاری ته د سمولو په موخه به دا ورځ د تاریخ په پاڼو کې په زرینو الفاظو ثبت کړي. خو له بده مرغه چې د یوه کال په تېرېدو سره دا څرګنده شوه چې طالبانو نه یوازې دا چې له تاریخ څخه یې زده کړه نه ده کړې، بلکې د خپلو تېروتنو په تکرارولو سره یې افغانستان په ژور بحران کې ګیر کړ او په پایله کې یې ځان، هېواد او ولس په یو بې سارې سیاسي او اقتصادي انزوا کې راوستل.
په نتیجه کې دې پایلې ته رسیږو چې د ۲۰۲۱ کال د اګست ۱۵ د افغانستان په تاریخ کې نه یوازې دا چې د مثبت بدلون لامل نه شو، بلکې د یوه نظام او ملت د بشپړ سقوط پیلامه شوه ، چې د اوسني وضعیت دوام به په نهایت کې ددی جغرافیې د سقوط لامل هم وګرځی . په دې صورت کې به د نن او سبا نسلونه د خپل هېواد په تاریخ کې دا ورځ به په ښه نوم نه یادوي.
البته دا باید ومنو چې د اګست د پنځلسمې پېښه ډېر کورنی او بهرني عوامل لري چې دمشخصو افرادو ، کړیو ، ډلو او د بهرنیو هېوادونو د رول په اړه به تاریخ قضاوت وکړی . خو په دې کې شک نشته چې د هېواد یو شمېر واکمنانو او د چارو مسؤولینو له خپل ملت او هېواد سره ملي خیانت او ستره جفا کړې ده.
د دې اصولو په رعایت چې په راتلونکې کې د بحران د حل او د روښانه سبا د جوړولو لپاره ، د بحران په عواملو پوهیدل اړین دي.
کاذب احساسات ، خودخواهی ، د راې استبداد ، قوانینو ته نه درناوي ، له ایډیالوژیکي، قومي، سمتی او ژبني کارتونو سره لوبېدل ، د خلکو له احساساتو څخه ناوړه ګټه اخیستل، د ملي ګټو د روښانه تعریف نشتوالی ، د نورو هېوادونو دګټو په تړاو واضح تعریف نه درلودل ، د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت څخه د روښانه او اساسی تعریف نه درلودل ، د یوه باثباته بهرنی سیاست نشتوالی ، د روښانه سیاسی او اقتصادی پلان نه درلودل ، د اسلامی، ملی او کلتوری ارزښتونو پر بنسټ د ټولنیزو او ښوونیزو پلانونو نشتون ، منل شویو نړیوالو قوانینو او نورمونو ته درناوي نه کول ، او تر ټولو مهمه تشه د ملي زعامت نشتوالی دی چې په هېواد کې د تېرو پنځو لسیزو د کړکېچونو او شخړو اصلي لاملونه ګڼلای شو.

اوس مهمه پوښتنه چې د هېواد د تاریخ په دې حساسه شېبه کې چې موږ ورسره مخامخ یو دا دی چې؛ د افغانستان په نوم یو هېواد چې څلوېښت میلیونه نفوس، د سیمې او نړۍ په کچه تر ټولو حساس ستراتیژیک موقعیت لري، څنګه شوني ده

چي په دی یو ویشتمه پیړۍ کی له معاصر حکومتي نظام او اساسی قانون درلودلو پرته ، د تعلیمي، روغتیایی ، بانکی او اقتصادي زیربناوو په برخه کې پرمختګ وکړو؟ ایا شوني ښځې او نجوني چې د هېواد له پنځوس سلنې څخه زیات نفوس جوړوي، له خپلو اسلامي او مدني حقونو یعنی تعلیم او کار کولو څخه بې برخې وي؟ ایا دا به ممکنه وي چې د دغه هیواد ځوان نسل چې له 65 سلنې نفوسو څخه زیاته برخه جوړوي د کار نوښتونو او پرمختګونو له کاروان څخه حذف او یا حاشیی ته کړل شي؟

بله پوښتنه دا ده چي له خپلو ولسونو څخه د مشروعیت او رضایت له لاسته راوړلو او له نړۍ سره د خپلو نړیوالو مسئولیتونو مکلفیتونو او متقابلو ګټو په چوکاټ کې له چلن او تعامل پرته به حکومت کول څنګه ممکن وي؟

د دې ټولو پوښتنو روښانه او پرېکنده ځواب منفي دی. زموږ د هیواد تاریخ شاهد دی چي هیڅ حکومت د توپک په زور دوام نه دی کړی.

فلهذا موږ دې نتیجي ته رسیږو چي د ټوپک په زور حکومت کول په مطلق ډول ناشونی دی او نتیجه نه ورکوی.

د طالبانو د حکومت یو کلن کړنی چي د دوحې د هوکړې له موادو سره د نه ژمنتیا، ناسمو او مقطعی سیاستونو دوام د دې لامل شوی چې افغانستان عملاً یو خطرناک او نه اټکل کیدونکي ناورین ته ننوځي. ښکاره بېلګه یې د تیرو ورځو ننګونکي او حوادث دی.

له همدې امله د هېواد اوسنی وضعیت له موږ ټولو څخه غواړي چي د بین الافغاني تفاهم په چوکاټ کې د یوې اساسي او بدیل حل لارې په موندلو فکر وکړو. دغه موخې یوازې د ګډو هڅو، یوبل منلو، زغم او د ملی یووالی د روحیې په نتیجه کې ترلاسه کېدای شي. اوس هغه وخت رارسېدلی دی ، چي د افغانستان سیاستوال او ولسونه د امتیازاتو غوښتنه د نمرو سکور کول سمتي او ژبني مسایلو د راسپړلو پرځای په ملي اجندا سره راټول شي او د هېواد د ژغورلو لپاره اقدام وکړي. د پورتنیو حقایقو په رڼا او په هیواد کې د تلپاتي او سراسري سولې د تامین په موخه تاسو درنو مشرانو او د افغانستان ولس ته خبر تر درکول کیږی چي د هیواد دننه او بهر یو زیات شمیر سیاسي او مخور شخصیتونه د هیواد او ملت د ژغورلو په موخه د کلک هوډ په درلودلو راټول شوي دي تر څو د خدای په توکل او د خپل ولس په ملاتړ دغه ملي داعیه په بشپړه امانتولي مدیریت او د خپلو ټولو هېوادوالو تر منځ د پل په توګه خپله ملي دنده ادا کړی.

د طالبانو د اسلامی تحریك مشرانو او علماو کرامو په شمول ټولو سیاسی جریانونو ، اګاه سیاسی او نیکنامو شخصیتونو ، قومي مخورو، خصوصی سکتور ،نارینه وو، ښځینه وو، ځوانانو، مدني ټولنو، د رسنیو له استازو او ټولو بېلابېلو ټولنیزو طبقو ته د هیواد په داخل او خارج کی بلنه ورکوو ، چی د یو ملی محور د ایجادولو لپاره په یو صف او یو نظر حرکت وکړي، د یوه واحد او پیاوړی ملي چتر تر سیورې لاندې راټول شي او د خپل هیواد د اصلی مالکینو په حیث د خپل ولس او هیواد د راتلونکي په اړه پریکړه وکړی.

لیدلور او غوښتنی:

۱ -موږ د هیواد په اوسني بحران کې د ښکیلو ټولو خواو سره په اړیکو کې د توازن ساتلو پالیسي تعقیبوو.

د ټولو افغانانو د غږ په توګه، موږ ژمن یو چي بشپړ بې طرفي وساتو او د یو نښلونکی اړخ په توګه عمل وکړو.

۲ -موږ پر بین الافغاني خبرو باور لرو او دغه اصل د هیواد د کړکیچ یواځنی د حل لاره ګڼو، مونږ د دوحې د تړون د پاتې توکو پلی کیدل ، تلپاتي سولې او ټیکاو موخو ته د رسیدلو لپاره یوه ریښتیني او عملی لاره بولو.

پر یووالي ، ملی امنیت او ځمکنی تمامیت باندې د ژور باور پر بنیاد ، د ټولو هیواد میشتو توکمونو ګډون د داسی یو حکومت د جوړولو په بهیر کې ، چې د افغانستان ټولو وګړو ته د منلو وړ ، او نړیوالو څخه د رسمیت پیژندنې ترځنګ وکړای شي د متقابلو ګټو په چوکاټ کې جوړ جاړې ته ورسیږي ، غوښتونکی یو.

مونږ له طالبانو څخه غواړو چي دغه ملی غږ ته یو مثبت ځواب ورکړي، د وخت له ضایع کولو څخه پرته له خپلو هیوادوالو سره د جوړجاړي په موخه د خبرو اترو میز ته راوګرځي، له لاسته راغلی فرصت او د وروستۍ نیمی پیړي د تجربو څخه په استفادی د هیواد او خلکو د خیر او هوساینې په لاره کې ګټه پورته کړي. د خپلو خلکو رنځ او درد ته د

پای ټکی کیږدي، او د هیواد د لا ویجاړولو څخه مخنیوي وکړي، د تېرو تېروتنو تکرار ویجاړونکي پایلو ته د رسیدو لامل گرزیدای شي.

۳ -موږ باور لرو چې د دوحې د تړون له غوښتنو سره سم د یو موقت حکومت جوړېدل، د افغانانو باور بېرته را ژوندی کړی ، د ملي او نړیوال مشروعیت سبب به وګرځی او په سمدستي توګه به د افغانستان اوسنی ټولنیز-اقتصادي بحران حل کړي.

دا حکومت به بیا داسی یو کمیسیون وټاکي چې د اساسي قانون په تدوین او یا تعدیل باندي کار وکړی. په پای کي به د نوي اساسي قانون د تصویب لپاره عنعنوی لویه جرګه راوغواړي ، داسی جرګه چی د خلکو د ارادی تمثیل کونکی استازی پکښی ګډون ولری او په مهمو ملي مسایلو لکه د راتلونکي سیاسي نظام د ډول او نورو مسایلو په اړه بحث وکړي.

دا موقت حکومت به له طالبانو او د هېواد د مصلح او متخصصو شخصیتونو د بین الافغانی مزاکراتو په ترڅ کي او د یوه نړیوال کنفرانس د رابللو په پایله کي مینځ ته راشی. په راس کی داسی یو بی پری ، نیکنام ، ملی او د ټولو لپاره د منلو وړ شخصیت ټاکل د پورتنیو مواردو د تحقق لپاره لازمی امر ګڼو.
۴ -موږ دا حقیقت منو چې د طالبانو تحریك د هېواد د نورو سیاسي جریانونو په څېر د افغاني ټولني یوه برخه ده او هر یو یې د هېواد په ملي مسایلو کي ځانګړی رول لري. خو ښکاره ده چي د افغانستان عام ولس چي له بده مرغه د تېرې نیمي پېړۍ د جګړو اصلي قربانیان دي، د هېواد د راتلونکي او برخلیک اصلي مالکان او تصمیم نیونکي دي. نو د دې وخت را رسېدلی چې د خپل برخلیک په ټاکلو کي پرېکنده رول ولوبوي او دا ځل دې د سولې د خبرو اترو اصلي برخه وی.
۵ -موږ له نړیوالي ټولني څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د تړون د یوه اړخ په توګه د افغانستان له خلکو سره، یوې تلپاتې سولې ته د رسیدو او د یوه نړیوال کنفرانس د رابللو په برخه کي د اسانتیاوو په برابرولو سره، د افغانانو په مشرۍ بین الافغاني خبرو ته د سرعت ورکولو او د دوحې د تړون د بشپړ تطبیق په هڅو کي مرسته وکړي.
۶ -مونږ د سیمې هیوادو څخه غواړو چې د یوې واحدې ستراتیژۍ په پام کي نیولو، افغانانو سره د یو تلپاتی سولی او ټکاو ته د رسیدلو په لاره کي مرسته وکړي. یو موټی، با امن افغانستان د یو مسوول حکومت په لرلو چې د ملي او نړیوال مشروعیت څخه برخمن وی د سیمې او نړۍ د سولې او ټکاو ډاډ او متضمن کیدای شي.

و من الله توفیق

د افغانستان ملی محور
۱۵ اگست ۲۰۲۲